AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۸/۰۲/۲۶

# جهالت زموږ په سر کې ځاله کړې

وخت هماغسې روان دی لکه تل
نه دريږي، که نيمګړی شې که شل

زمانه لکه دايم، بيا نا کردې کړي
څويم وار په وينو ولړي کابل

جهالت زموږ په سر کې ځاله کړې
خار په شونډو ښکلوو، رژوو ګل

د دې وخت دې ناکردو ته ښه وګوره!
که رستم شې، نه لرې يې تحمل

که زر ځلې ورته وايي داسې مه کړه
اور ته مه ځه! دی روان، وايي سنبل

د ويرونو پيټی دومره رادروند شوی
نه به ټينګ شي کوم رستم نه هم عاقل

ټول وطن په وينو سور لړلی ګوره
سر تر پښو په وينو رنګ شو هم کاکل

د هر چا له پاره ښه وينا همدا ده
چې تقدير مو دی، عادت مو شو زغمل

۲۰۱۸/۰۱/۲۸
هيدرسليف،
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ